مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۱/۰۱/۱۸

# خوږمن احساس

دا سست بنیاد، دلته لرزان وینمه
دانشورا ،اخته په ځان وینمه

خوږمن احساس په ورکیدو دی، زمونږ
خاوند د درد، تل پریشان وینمه

هر خوا حالات، زمونږ دردمن ژړوی
په ژړیدو ، صا حبدلان وینمه

د نا امیدئ ، په خا نقاه کې یو ناست
په ژور سوچ کې ، غمخواران ، وینمه

د خپل د زړه او د ضمیر په ستر ګو
په چاپیریال کې می ، دیوان وینمه

غوره یو رنګ، د صلابت ځان ته کړئ
ځکه چي هر خواته ، طوفان وینمه

دیو و د د ګرځي ، د انسان په جامه
صاحب نظر ورته ، حیران ، وینمه

ښایسته ګلشن نه د نفرت راځي ، بوی
اغزن ماحول د ګلتان ، ویمه

په زړه ځوریږي ، د احساس خاوندان
ځان ته حیران ، مهربانان وینمه

د بی حیا دښمن ، موده د پایښت
خدایږو چي لنډه ، په جهان وینمه

چي مو راویښ کړي ، د غفلت له خوبه
شورو فریاد کې ، بلبلان وینمه

تیاره ماحول ، او نادانئ ، د لاسه
عمرونه کیږي ، چي هجران وینمه

منګول رسئ ته ، د وحدت واچوئ
ځکه چی دي کې مو ، درمان وینمه

سوری سوری ، زړه د (نادر)شي تا ته
چی باغ و بڼ کې دي ، خزان وینمه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځیر و لولئ